# خواریکښ

# قاضي



**لیکوال:** داکتر مهندس حشمت الله  اتمر

**پیخلیک:** مرغومی/ کال ۱۴۰۴ لیږدی

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



(c) ketabton.com: The Digital Library



## لیکي پوهه:

**سرلیک:** خواريکښ قاضي

**لیکوال:** ډاکټر مهندس حشمت الله ,, اتمر ،،

**اېډېټور:**

**د پښتنۍ ډيزان:** ډاکټر مهندس حشمت الله ,, اتمر ،،

**خپرندوی:**

**چاپشمېر:** ۳۰

**چاپ نېټه:** مياشت - مرغومی / کال ۱۴۰۴

**واټس اپ:** +۹۳۷۹۹۳۷۶۹۹۸

برېښناليک: atmar_hashmatullah@yahoo.com

د چاپ حقوق له ليکوال او خپرندوی سره خوندي دي، بې اخځ ښوونې ترې د ګټې اخيستنې اجازه نه شته.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# لړلیک

**سرلیک** **چوپړی**

**پخښتی.................................................................... ۱**
**بسم الله الرحمن الرحیم ................................................... ۲**
**لیکي پوهه:................................................................. ۳**
**لړلیک .................................................................... ٤**
**تراڼ (پیل، شروع، برید)................................................... ٥**
**د یادښتونو له پاره:......................................................... ۷**
**ناانډوله (ناول، کیسه یا داستان) ........................................... ۸**
**د چاپ شویو کتابونو لېست.............................................. ٥٥**
**د کار لاندې کتابونو لېست ............................................... ٥۹**
**د امکان او وخت په صورت کې............................................. ٦۰**
**د پخښتی څټ .......................................................... ٦۱**

(c) ketabton.com: The Digital Library

خواريکښ قاضي

..................................................

## تراڼ (پيل، شروع، بريد)

بِسْمِ اللّهِ الرَّحْمنِ الرَّحِيمِ، الْحَمْدُ لِلَّهِ إجْلَالًا لِقُدْرَتِهِ، وَ لَا إلَهَ إلّا اللَّهُ خُضُوعاً لِعِزَّتِهِ، وَصَلَّى اللَّهُ عَلَى مُحَمَّدٍوَآلِهِ .

بې پايه ستاينه او بې حده منته، د هغه سپېڅلي ذات نه چې د وجود مانۍ او کاينات يې د انساني وجود د تکامل او د انسان له پاره د خپل سپېڅلي ذات او عبادت د حقيقت له پېژندلو پرته جوړ کړل. هغه د ذات پوهه، عالي، لوړ او ښکلي نومونه دي، او کائناتو د پيدايښت يوه حتمي لامل دی. عظمت، د ټولې نړۍ موجوديت، د ناخاپه څخه راوتل، حق د رسيدو جوهر په يوه والي کې د اعتراف، تباهۍ او بې وسۍ يوه له لوړو وسيلو څخه دی.

**ګرانو لوستونکو!**

دا ځل مې و غوښتل يو بل حقيقي داستان يا ناول چې کيسه يې په هېواد کې د ننه، د ننګرهار ولايت په کامې ولسوالۍ کې تېره شوې ده، د خپلو کتابونو مينوالو او لوستونکو سره ګډه (شريکه) کړم.

زما د کتابونو مينه وال يوازې معماران او انجينران نه دي، نه بايد اوسي، نوځکه غواړم ورځ په ورځ د خپلو ليکونو کې توپير راوړم چې د هرې ځانګې مينه وال په کې ډېر شي، دا کار به ما دېته اړ کړې چې ليکنې مې توپير و لري او هم به مې مينه وال ډېر شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

خواریکښ قاضي

..........................................................

**پاکه ربه!**

زموږ له پاره خپله لاره بې ستونزې کړه، تر څو موږ له تا پرته بل څوک و نه وینو او نه یې پېژنو. زموږ سره مرسته و کړه تر څو مو په وجود کې د غرور نخښه پاتې نه شي او د اسلام د دین له سپیڅلو بنده ګانو څخه مو و بولې.

**یادونه:**

- د نظر ټولو خاوندانو او هغه څوک چې دا کتاب لولي په ډېر درنښت هېله کیږي چې، خپلې غوښتنې او وړاندیزونه د دې کتاب د بیا کتنې له پاره، زما سره شریکه کړئ.

Whatsapp: ٠٠٩٣٧٩٩٣٧٦٩٩٨

په در نښت

ډاکټر معمار حشمت الله اتمر

(c) ketabton.com: The Digital Library

خواریکښ قاضي

..........................................................

**د یادښتونو له پاره:**

۱- ........................................................................

۲- ........................................................................

۳- ........................................................................

۴- ........................................................................

۵- ........................................................................

۶- ........................................................................

۷- ........................................................................

۸- ........................................................................

۹- ........................................................................

۱۰- ......................................................................

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ناانډوله (ناول، کیسه یا داستان)**

هغه په کال ۱۳۸۶ لېږدی کې د کامې ولسوالۍ په یوې بې زده کړې کورنۍ کې، دې نړۍ ته سترګې خلاصې کړې.

پلار یې ختېګر، مور یې د کور په دندو بوخته او هغه هم بې زده کړې وه.

د دوی په کورنۍ کې او خپلوانو کې هېڅ چا (هېچا) زده کړې نه وې کړې او ټول بې زده کړي وو.

د هغوی کلیو او نږدې سیمو کې هیڅ ښوونځی نه و.

د هغه کورنۍ ډیره لویه، څلور خویندې او پنځه ورونه وو.

پلار یې اړ و تر څو ډېر زیار او کار وکړي، خو د ستونزو سره، سره به یې حلاله روزي ګټه، د کورنۍ سره به یې یوځای خوړه او خپله ګذاره به یې پرې کوه.

ماشومان یې لوېدل او د هغه د کور خرڅه (خرچه) هم مخ په زیا تېدو (ډېرېدو) شوه.

هغه بل مشر زوی نه درلود، یواځې یوه زوی یې لږ لوی وه، هغه به په تدبیر سره خبرې کوې، نو ځکه هغه ته به، په کور او د کور نه د باندې، خلکو قاضي ویل.

هغه لږ لوی شو.

بیا یې هڅه کوه چې له پلاره سره کار ته لاړ او د هغه سره مرسته وکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

خواریکښ قاضي

..........................................................

د هغه مرسته، پلار د پاره ډېره ګټوره، نه وه.

هغه به خپل پلار ته د ستومانتیا په پیر(وخت کې) اوبه ورکوې، د اوداسه په وخت کې به یې هغه ته کوزه د اوبو نه ډکوه او جای نماز به یې هغه ته اواراوه.

همدا راز به یې هغه ته ډوډۍ، د کور نه وړه، چېرې چې به د هغه پلار، په کار اخته و.

کله، کله به یې خپل پلار ته خښتې او نور ودانیز شیان ور نږدې کول.

څه وخت تېر او هغه اووه کلن شو.

پلار یې کوښښ وکړ تر څو هغه په ښوونځې کې ګډ (شامل) کړي.

ښوونځي د هغو د کورونو نه ډېر لرې او د پښو د شل دکیکو(دقیقو) نه تر نیمې کړۍ (ساعته) پورې، لاره وه.

پلار یې هغه په ښو ونځي کې ګډ (شامل) کړ او غوښتل یې چې په رېښتیا هم قاضي شي.

قاضي د ښونځي سره ډېره مینه درلوده او سهار وختي به له خوبه پاڅېد د اوداسه او لمانځه نه وروسته به یې تریخ چای د توري وطنۍ ګړې سره وخوړ، یوه کوچنۍ ټوټه جواری به یې د کتابونو په کڅوړې کې کېښود او هغه به یې د تفریح په وخت کې خوړ.

کله، کله به یې د ښوونځي په لاره کې هغه جواری خوړ او وروسته به یې د روانې ویالې نه په کوچنیو لپوکې اوبه اخیستې او هغه پسې به یې غړپوې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

خواریکښ قاضي

.........................................................

ځکه د جواري تېرول هم آسانه کار د لویانو له پاره نه و او د قاضي له پاره خورا ګران کار و.

کله به هم په لاره کې د ویالې پر غاړه کښېناست او سوړ جواری به یې د ویالې د اوبو سره خوړ.

هغه به نیمه ورځ ښوونځی ته، ته او نیمه ورځ به یې خپل پلار کار ځای ته، ته او د هغه سره به یې مرسته کوه.

هغه په همدې توګه ښوونځی په ښو شمېرو(نمرو) او بری سره پای ته ورساوه.

بیا یې لېسې ته ملا، وتړه.

په لېسې کې به یې هم نیمه ورځ ښوونځي ته، ته او نیمه نوره ورځ به یې د پلار سره، کار کوه.

هغه په رېښتا سره هم غوښتل چې قاضی یا حقوقدان شي.

څو کاله وروسته، هغه د لېسې نه په بري سره و وت(فارغ) شو.

بیا د لوړو زدکړو له پاره، د کانکور آزموینه ورکړه.

هغه د خپلې خوښې څانګې ته بریالی شو.

هغه خپلې لوړې زده کړې د حقوق په پوهنځي کې پیل کړې او لمړی او دوېیم سمستر یې د ډېرو ستونځو سره، په بریالیتوب پای ته ورساو.

مګر د اقتصادی ستونزه سره یې و نه شو کولای پوهنځی، پای ته ورسوي او په رېښتیا هم قاضي او یا حقوقدان شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

خواریکښ قاضي

...................................................

هغه ډېر خفه شو.

پلار یې کوښښ وکړ تر څو هغه مصروفه وساتی چې پر هغه بوج را نشي.

بیا به هغه ته بله ستونزه پیدا او ټوله ورځ به یې په ډاکټرانو ګرځوي.

بیا یې څه پیسې خپلې او څه یې د نورو دوستانو نه پور کړي او هغه ته یې پرې زرنج واخیست.

د قاضی زرنج ښکلی و.

قاضي پر زرنج کار پیل کړ.

څه پیسې یې وګټې.

بیا یې، یوه شخصي پوهنتون ته آزموینه ورکړه او د لابراتوار په څانګې کې بریالی شو.

دا شخصي پوهنځی، د جلال آباد په ښار کې شتون درلود.

البته به یې هم نیمه ورځ، پوهنتون ته، ته او نیمه ورځ به یې پر زرنج کار کوه.

هغه دوې کاله پوهنتون په نظري توګه بشپړ او بیا وروسته یې د عملي کارونو له پاره، د جلال آباد صحت عامې روغتون کې د یوه کال، په عملي او وړیا توګه، زده کړې وکړې.

د فراغت نه وروسته یې د خلکو په غوښتنه، و غوښتل چې په خپل کلي کې لابراتوار خلاص کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د دې کار له پاره یې لمړی د کار (دندې، فعالیت) جواز(اجازه) تر لاسه او په خپل کلي کې یې، لابراتوار خلاص کړ.

هغه به کوښښ کوه چې په دکیکه (دقیقه) توګه معاینه وکړي.

چا چي به د معاینې توان نه درلود، هغه سره به یې مرسته او د هغوی نه به یې پیسې (فیس) نه اخیسته.

هغه په لږه موده کې ډېر نوم (شهرت) پیدا (تر لاسه) او د نورو لرو سیمو نه به خلک د خپل معایناتو د پاره، د هغه لابراتوار ته، راتلل.

د هغه کار اوبار، په سمه توګه سر ته رسېد او خورا پیسې یې وګټې.

په هېواد کې حالات وران شوو، ورځ تر بلې به یې کار په لږېدو شو.

تر څو پخوانی نظام ړنګ او پر ځای یې اسلامي امارت د دوېیم ځل له پاره کامیابه او پر ټول هېواد کې یې ولکه ټینګه کړه.

پولیس، ملی اردو او ملي امنیت ړنګ او ټولو ته د ښښنې (عفوې) فرمان واورول شو.

هرې خوا به د هغوي پرځای طالبان ګرځېده او ګزمې به یې کوې.

د جګړو سیخه (مستقیمه) جبهه له منځه، لاړه.

ورور وژنه، پای ته ورسېده.

د شپې او ورځې، تګ او راتګ هرې خوا پیل شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

خواریکښ قاضي

..............................................................

چا چې په خپلو سیمو کې ظلم، ستم، قاچاق، ورور وژنه، تېرى، غلاوې، اختطاف، ملي ګټو ته زیان ( نقصان) رسولى وو، د هېواده و تښتېدل او بهرني هېوادونو ته پناه وړوړه.

نور، په هېواد کې امنیت ټینګ شو.

مګر کاروبار لږ سست، شو.

خلکو د یوه ځاى نه بل ځاى ته او یا هم خپلو سیمو ته، بېرته ستانه شوو.

د قاضي لابراتوار کاروبار مخ په پیکه کېدو شو.

ګټې او مراجعیین یې ورځ تر بلې په لږېدو شو.

هغه د ورځې کور خرڅه هم نه شو پیدا کوى.

څه موده یې د ستونزو سره تېره کړه.

سوچونه به یې وهل.

مګر څه به یې په لاس نه راتلل.

یوه ورځ یې پرېکړه وکړه، ترڅو خپل لابراتوار وتړي او بله کومه دنده و مومي.

هغه د دندي په هکله، هرې خوا ته به ته.

هر څومره چې وګرځېد، د خوښې دنده یې، په هېواد کې، تر لاسه نه کړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

خواريکښ قاضي

.........................................................

بيا مجبوره شو چې ګاونډي هېواد ته، د ډنډې لاس ته راوړلو په هکله (خاطر) لاړ شي.

هغه ناوخته د جلال آباد ښار نه، کور ته، لاړ.

د بهر تګ په هکله يې د خپل پلار، مور او کورنۍ نورو غړو سره ګډه (شريکه) کړه.

هغوی ټول، د هغه په تګ خپه شوو.

بيا، پلار يې و ويل:

د ستا په تګ، زه ډېر خواشينی شوم.

که چېرې دلته ،اخوا او دېخوا وګرځې، کومه ګټه نه کوې.

ښه به دا وې چې الته لاړ او کومه دنده تر لاسه کړې.

قاضی د خپل پلار نه مننه وکړه.

بيايی د خپلې مور نه هم پوښتنه وکړه:

مورې!

ستا اند (نظر) په دې هکله څه دی؟

هغې و ويل:

زه هم ستا د پلار سره، يوه (موافقه) يم.

شپه نا وخته شوه او هغه ته خوب، ورغی.

هغه خپلې کوټې ته لاړ او بيده شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

خواریکښ قاضي

.......................................................

سهار وختي د لمانځه اداکولو له پاره، د خوب نه پاڅېږ او دکور نه دباندې شو.

لمړی د کلا خوا نږدې ویالې ته، لاړ او التـه یې اودس وکړ.

بیا مخ یې پر څادر باندې وچ کړ.

تسبې (تسبېح) یې له جبه و وېستې او په اړولویې پیل کړ.

بیا، جومات ته لاړ، تر څو په جمع لمونځ ادا کړي.

په دې وخت کې، پلار یې هم جومات ته ورسېږ.

دواړو د نورو کسانو سره لمونځ په جمعې سره ادا کړ.

وروسته، کور ته ستانه شوو.

موریې وختي هغه ته چای دم (تیار) کړی و.

هغه په سوچ وهنه کې، د سهار چای وڅښنه.

بیا خپل کالي یې بدل او پاکې جامې یې واغوستې.

وروسته یې یوه کڅوړه را واخیسته او خپل د سفر وړ(ضروري) شیان یې په کې، کېښودل.

له ځایه پاڅېږ.

لمړی یې د خپل د مور، لاسونه ښکل(مچو) کړل.

بیا یې د کورنۍ ټولو غړو سره خدای پاماني وکړه.

وروسته خپل پلار ته نږدې شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

خواريکښ قاضي

..........................................................

د هغه لاسونه يې، هم ښکل کړل.

په دې وخت کې يې د مور د سترګو نه اوښکې روانې (جارى) او په پلو(سالو، ټيکري) يې وچې کړې.

مخ يې بلې خوا، واړاوه تر څو د قاضي ورته، پام نه شي.

بيا پلار يې د هغه  سره تر دروازې لاړ.

موريې د اوبو ډکه کوزه (بدني) په لاس کې نيولې وه.

کوم وخت چې قاضي د کور نه و وت، د هغه پسې يې اوبه و شيندې.

قاضي ته ژړا راغله او څټ (شا) ته يې و نه کاته.

بيا کڅوړه يې څټ (شا ته) واچوه.

لمړى لارې ته سم بيا د پوخ سړک خوا ته، روان شو.

پوخ سړک ته ورسېد.

زړه يې ډک او تش، کېده.

خو!

ځان يې کلک کړ.

دا د ده په عمر کې لمړنى سفر و، هغه هم د هېواد نه بهر.

لمړى د موټر په انتظار شو.

بيا د سيمې په موټر کې، کښېناست او جلال آباد ښار ته لاړ.

وروسته ځان يې د تورخم (طورخم) موټرو اډې ته ورساوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



الته د تورخم په موټرو کې ، کښېناست.

څنډ وروسته، موټر ډک، بیا یې په حرکت پیل کړ.

یوې ګړۍ وروسته، د تورخم ښارګوټي ته ورسېد.

موټر هم د هغه ځای اډې ته، د ننه او خلکو ته یې و ویل:

دا د تورخم اډه ده.

کولای شئ، د موټر نه کوز شئ.

خپلو کڅوړو ته پام وکړئ.

قاضي هم د نورو په شان له موټره کوز، کڅوړه یې څټ (شا ته) واچوه او بورډر(خط، لیکې) خوا ته روان شو.

غرمه وه.

اوا(هوا) هم توده وه.

هغه ډېر وږی شوی هم و.

په دې وخت کې بورډر تړی و.

هغه، اخوا دېخوا وکتل.

بیا یې یوه رستورانټ، تر نظره شو.

لمړی رستورانټ ته لاړ او الته یې د غرمې ډوډۍ وخوړه.

بیا یې د چای فرمایښت، ورکړ.

د رستورانټ شاګرد هغه ته یوه چاینکه شین چای، راوړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

خواریکښ قاضي

.....................................................

قاضي په مزې سره شین چای وڅښه.

دمه یې جوړه او غوړکی (ګرځنده تېلفون) یې له جبه راو وېست.

ګړۍ ته یې وکاته.

د ماسپښین د لمانځه وخت و.

جومات ته لاړ.

الته یې اودس بیا یې لمونځ ادا کړ.

وروسته له جومات نه و وت او بیا بوردړ خوا ته، روان شو.

د بوردړ نه تېر(واوښت) او د ګاونډ هېواد تورخم (طورخم) ته ورسېد.

الته، د پېښور موټرو اډې ته لاړ او په یوه موټر کې کښېناست.

ګړۍ وروسته هغه، ښار ته ورسېد او له موټر نه کوز شو.

بیا د خپل دوستانو کور ته، لاړ.

شپه یې الته وکړه او سهار وختي د کار موندنې له پاره و وت.

څو ورځې یې، کار موندنې پسې تېرې کړې.

اونۍ وروسته یې په یوې شخصي پراپرتۍ (راهنمای معاملات) کې د مدیر(منیجر) په توګه کار و موند.

الته یې په کار پیل او خورا خوشحاله شو.

په دې هکله یې خپل پلار او مور ته هم، خبر ورکړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

خواريکښ قاضي

.......................................................

هغوي هم د دې خبر(پيغام) په اورېدو سره، ډېر خوشحاله او هغه ته يې د خير دوعاوې وکړې.

البته تر شپږو مياشتو پورې يې کار، وکړ.

د پراپرټۍ خاوند د هغه په کړونو(کار) او د هغه پر صداقت ډېر خوشحاله و.

هغه ډيره ګټه د پراپرټۍ خاوند ته، ورسوه.

يوه ورځ قاضي سوچ کې ډوب او په فيسبوک کې اخته و.

په نا څاپي ډول يې يوه اعلان، تر سترګو شو.

په چوپړې (پاڼې، صفحې) که د کارموندنې اعلان په زير سره و کاته.

دا اعلان د يوه تکړه کس د لابراتوار په څانګې کې و.

قاضي ډېر خوشحاله شو.

د اعلان نه يې کاپي په خپل غوږکي (ګرځنده تيلفون، موبايل) کې واخيسته او ماښام ناوخته په پټې پسې، روان شو.

دنده د تاج په نوم، روغتون کې وه.

قاضي هم لمړی د تاج روغتون، پته وموندە.

بيا د اعلان په هکله د اداری نوکريوال سره يې خبرې وکړې.

هغه و ويل:

دا اعلان سم او مونږ، کس ته اړتيا لرو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



بیا یې زیاته (ډېره) کړه.

اوس خو، د روغتون مدیر نه شته.

هغه کورته، تللی دی.

ته، سبا راشه!

د هغه سره په دې هکله خبرې وکړه.

قاضی و منه او د روغتون نه د باندې شو.

په خوشحالۍ سره خپل استوګن ځای ته، لاړ.

هغه ډېر خوشحاله، ښکارېده.

ټوله شپه یې سم، خوب ونه کړ.

سهار وختي لمانځه نه وروسته، روغتون ته روان شو.

هغه بېرېده چې کوم بل څوک (کس) ترې مخکې نه شي.

قاضی روغتون ته، ورسېد.

الته یې، روغتون د مدیر پوښتنه وکړه.

نوکریوال کس هغه ته، و ویل:

اوس ډېر وختي دی.

هغه، یوه ګړۍ وروسته راځي.

ته د باندې ،د روغتون په انګړ کې، انتظار وکړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



قاضي و ویل:

سمه ده!

بیا یې و پوښتل:

زه خو هغه نه پېژنم.

څرنګه به پوی شم چې هغه راغلی دی؟

کس و ویل:

دلته ټول د قانون سره سم او په خپل وخت، راځي.

ته هم یوه ګړۍ وروسته، راشه.

قاضی د روغتون انګړ ته لاړ.

التله د یوې ونې لاندې، پر څوکۍ کښېناست.

ژر، ژر به یې غوږکی (ګرځنده تیلفون، موبایل) له جبه باسه او هغه ته به یې، کاته.

نیمه ګړۍ وروسته یې غوږکی(ګرځنده تیلفون، موبایل) په لاس کې و نیو او څو، څو دکیکو(دقیقو) وروسته به یې هغه ته کتل.

خلک روغون ته، ننول او وتل.

ځینې موټر به روغتون ته ننوتل، ځینې به یې بېرته وتل او ځینې نور به د روغتون تم ځای (پارکینګ) کې درېدل.

د روغتون کارکونکو او ډاکترانو هم کولای شو، خپل موټر روغتون ته د ننه او د دندې تر پایه، التله په تم ځای (پارکینګ)کې ودروي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

خواريکښ قاضي

.......................................................

قاضي به کله کسانو او کله به يې موټرو ته کتل، تر ځو وخت پوره شو.

بيا هغه د روغتون د دروازې ساتونکي ( پيره دار ته) نږدې شو او د هغه يې و پوښتل:

مدير صيب خو به راغلی وي؟

هغه و پوښتل:

کوم مدير.

قاضي و ويل:

د روغتون اداري مدير.

کس ځواب ورکړ.

زه خورا بوخت وم.

پام مې نه دی شوی.

بيا قاضي و ويل:

کولای شم د ننه لاړ شم؟

هغه و ويل:

کينڼ اړخ ته د معلوماتو کوټه (دفتر) ده.

ته الته لاړ او د هغه نه پوښتنه وکړه.

قاضي و منه او د مالوماتو (معلوماتو) کوټې کړکۍ ته نږدې شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د کوټې کس و ویل:

څوک دې په کار دی؟

قاضي و ویل:

د روغتون اداري مدیر مې په کار دی.

بیا یې، ورنه پوښتنه وکړه:

څه دې ویل؟

زه به په ټېلفون کې، ورته و وایم.

قاضي و ویل:

د لابراتوار د اعلان په هکله راغلی یم، کوم چې په فیس بوک کې خپور شوی و.

کس و ویل:

سمه ده!

اوس به ورته زنګ و وهم.

ستا نوم څه دی؟

هغه و ویل:

زما نوم قاضی دی.

بیا یې و پوښتل:

ځایې یې که مهاجر؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



قاضي و ويل:

مهاجر يم.

بيا کس و ويل:

سمه ده!

پو ی، شوم.

بيا يې تېلفون پورته او د روغتون اداري مدير ته يې، زنګ و واهه.

هغه ټيلفون پورته او د مالوماتو (معلوماتو) کس ته يې سلام و ويل.

هغه هم ورته وعليکم و ويل:

بيا يې د قاضي په هکله هغه ته، راتهول شوي ما لومات (معلومات) وړاندې کړل.

هغه و ويل:

سمه ده!

ما ته يې راولېږه.

هغه د دروازې پيره دار(مسول) ته و ويل:

دا کس تلاشي کړه.

هغه هم، د اصولو سره سم، هغه يې تلاشي کړ.

بيا قاضي و ويل:

اوس کولای شم چې روغتون ته، د ننه شم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د مالوماتو (معلوماتو) کوټې کس و ویل:

هو!

لمړی خپل ټول مالومات (معلومات) په دې کتاب کې ولیکه او بیا یې لاسلیک کړه.

قاضي هم خپل ټول مالومات (معلومات) په کتاب کې ولیکل او لاسلیک یې کړل.

بیا یې قاضي ته و ویل:

کینې لاس درېیمې کوټې ته لاړ شه.

بلې خوا به نه ځې.

او د لیدو نه وروسته، بیا به، زما کوټې ته راځې، چې د وتو(خروج) وخت په کې ولیکم.

قاضي  و ویل:

سمه ده!

هرو مرو به دا کار کوم.

قاضي د روغتون اداري مدیرکوټې ته لاړ.

لمړی یې ور وټکاوه.

د ننه نه یې، غږ واورېد.

کم ان (Come in)

(c) ketabton.com: The Digital Library



قاضي پوی شوه چې هغه ته، د ننوتو بلنه ورکړ شوه.

بیا دروازه یې خلاصه او کوټې ته د ننه شو.

لمړی یې سلام ورکړ.

د روغتون اداري مدیر د قاضي سلام ته وعلیکم و ویل.

بیا یې هغه ته و ویل:

مهرباني وکړه.

پر دې څوکۍ کښېنه!

قاضي هم پر څوکۍ کښېناست.

بیا د روغتون اداري مدیر قاضي ته و ویل:

اورم.

قاضي هم ټوله کیسه، هغه ته په لنډه توګه، بیان کړه.

بیا اداري مدیر و ویل:

سند لرې؟

قاضي و ویل:

هو صیب!

مدیر و ویل:

کولای شم چې ویې ګورم؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



قاضي و ويل:

هو صيب!

دا، دی؟

مهرباني!

و يې ګورئ.

مدير ټول اسناد په ځير سره و کاته.

بيا يې اسناد هغه ته، بېرته و رکړل.

مدير تېلفون پورته کړ او د روغتون خاوند (مالک) ته يې زنګ و واهه.

وروسته يې د قاضي په هکله ټول ما لومات ګډ (شريکه) کړل.

بيا د روغتون خاوند و ويل:

ته، تر ما ښه پوهېږي.

که په کار دې راځي، ور سره ټرون لاسليک کړه.

مدير و ويل:

سمه ده صيب!

مننه کوم.

بيا يې تېلفون بند او قاضي ته يې و ويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



تا زمونږ د روغتون شرایط (شرطونه) د اعلانونو په چوپړې (صفحې، مخ) کې په ځیر سره کتلی دي؟

قاضي و ویل:

هو!

بیا یې و ویل:

د تنخواه سره هم، موافق یې؟

قاضي و ویل:

هو صیب!

بیا مدیر قاضی ته و ویل:

ته چابکه (با استعداده) او تجربه هم لرې!

قاضي مننه وکړه او ویې ویل:

کور دې ودان.

وروسته مدیر هغه ته چای و غوښت او ویې ویل:

ته ترڅو چای څښې زه به اسناد چاپ (پرنت) کړم.

قاضي چې تږی شوی و، پر چای یې پیل کړ.

مدیر هم اسناد چاپ کړل.

بیا یې د قاضي مخې ته کېښودل.

قاضي اسناد واخیستل او غوښتل یې چې پرې لاسلیک پیل کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



اداري مدير و ويل:

لمړی یې په ځير سره ولوله، بیا یې لاسلیک کړه.

هغه و منه او اسناد یې ټول په ځير سره ولوستل.

بیا یې اداري مدیر ته و ويل:

اسناد، سم دي.

کولای شم، پرې لاسلیک کړم؟

اداري مدير و ويل:

هو!

اوس کولای شئ، اسناد لاسلیک کړئ.

قاضي د جب نه کلم (قلم) راو وېست او پر لاسلیک یې پیل کړ.

څنډ وروسته يې ټول اسناد بېرته اداري مدير ته ورکړل.

اداری مدیر و پوښتل:

د دې دندې آزموینه هم اخلو.

ته څه وخت کولای شې په آزموېنې کې ګډون وکړئ؟

قاضي و ويل:

هر کله چې ستاسو خوښه وي.

مدير و ويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

خواریکښ قاضي

.......................................................

سمه ده!

آزموینه درې ورځې وروسته ده.

ته کولای شې، دلته د سهار په نهو بجو، راشې.

قاضي و ویل:

سمه ده!

هرو مرو راځم.

قاضي ډېر خوشحاله شو.

هغه د مدیر نه مننه وکړه .

بیا له ځایه پاڅېد، د اداري مدیر نه یې خدای پاماني واخیسته او د کوټې نه بهر شو.

هغه ډېر خوشحاله شو.

له ځانه سره یې و ویل:

له یوې خوا د مور او پلار دوعاوې او د بلې خوا د خدای رحم و.

دا دی، کار مې لکه چې، وشو.

هغه هم د خوښې او ربنتې (رشتې) سره سم.

په خوشحالۍ کې له روغتون نه و وت او شا ته یې هم و نه کتل.

د روغتون د انګړ نه د باندې شو.

غوښتل یې چې په موټر کې کښېني او پراپرتۍ ته، لاړ شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په ياد يې راغی چې بايد لمړی د مالوماتو (معلوماتو) کوټې ته تللی وای.

التـه يې د وتو وخت په کتاب کې ليکلی او هغه ته يې اطمينان ورکړی وای چې:

کار خلاص او دا دی زه د روغتون نه وځم.

هغه په منډو بېرته راستون شو.

د روغتون ودانۍ په دروازې کې هغه ته و ويل شو:

اوس د ننوتو وخت، نه دی.

ته بايد غرمې ته، راشئ.

قاضي و ويل:

پوهېږې!

زما ښځه، څه هېر شوي دي.

زه نه غواړم، روغتون کې وګرځم.

زه غواړم د مالوماتو دفتر ته و وايم چې:

دا دی!

زه وځم.

ته التـه په کتاب کې د بېرته وتلو پير (وخت ) وليکه.

يوائې، هم دومره.

(c) ketabton.com: The Digital Library



کس په خندا شو.

بیا یې و ویل:

ته په ځوانۍ کې دومره ګنګس یې، په سپین ږیریتوب که به دې حال ځنګه وي.

قاضی، کس ته، څه و نه ویل.

په زړه کې یې و ویل:

کس هم د مړې ښځې پاړسي (دري، پارسي یا فارسي) وایي، دا زمونږ د افغانانو په حال څه پوهیږي.

کس و ویل:

سمه ده!

چټک (چابکه) لاړ، شه.

ژر، بېرته راشه چې کوم ډاکټر دې و نه ویني.

بیا به هغه پر مونږ دواړو، په غصه شي.

قاضي و ویل:

سمه ده!

په منډو به لاړ او بېرته، ستون شم.

بیا د مالوماتو دفتر خونې ته ودرېد او د کړکۍ شیشه یې په ګوتې وټکوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

خواریکښ قاضي

.........................................................

کس و ویل:

څه غواړې؟

قاضي و ویل:

غواړم چې د وتلو وخت زما د ډکې شوې شمېرې سره، ورسوې.

هغه و ویل:

نوم دې څه دی؟

هغه و ویل:

زما نوم قاضي دی.

هغه چوپړې (صفحې) په زیر سره وکتې او د هغه نوم یې پیدا کړ.

بیا یې قاضي ته و ویل:

دوې ګړې تېرې شوي دي.

ته، تر اوسه چېرته ورک وې؟

هغه خپله لنډه کسیه ورته بیان کړه.

کس هم، پر قاضي وخندل.

وروسته یې کلم (قلم) د میز د سره واخیست او د هغه د وتلو وخت یې ولیکه.

بیا یې قاضي ته و ویل:

اوس کولای شئ، لاړ شئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



بیا به داسې کار، نه کوې.

قاضي و ویل:

سمه ده!

بیا به تکرار، نه شي.

دوې ورځې تېرې شوې.

د وعدې سره سم، قاضي د آزموینې ورکولو د پاره روغتون ته لاړ.

نورو کسانو هم، البته د آزموینې انتظار کوو.

قاضي هم د نورو کسانو سره په انتظار، شو.

لنډه موده تېره شوه.

اداری مدیر له خپلې کوټې (خونې) و وت.

د هغه په لاس کې سوالونه و.

هغه الکانو ته و ویل:

ټول د آزموینې له پاره راغلي یاست؟

الکانو و ویل:

هو صیب!

بیا یې و ویل:

زما پسې، راشئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



مونږ آزموینه په تحریري او تقریری بڼو(توګه) اخلو.

الکانو و ویل:

سمه ده!

ټول د اداري مدیر په سې، د لابراتوار د مسول کس کوټې ته ننوتل.

بیا یې، هغوی ته و ویل:

دلته پر څوکیو، کښېنئ.

په خپلو کې به خبری هم، نه کوئ.

بیا یې د سوالونه پارچې و وېشې.

اداري مدیر کسانو ته و ویل:

پارچې حل کړئ.

څنډ وروسته ټولو پارچې حل او اداري مدیر، پارچې ټولې او الکانو ته یې و ویل:

تاسو د باندې په دالان (دهلېز) کې ودرېږئ.

زه او د لابراتوار مشر په ګډه (شریکه) سره پارچې وینو.

د کامیابو کسانو نه، عملي امتحان هم، اخلو.

الکان، ټول د باندې شوو.

اداري مدیر او د لابراتوار مشر، د پارچو په لیدو پیل کړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

خواريکښ قاضي

................................................

قاضي، سوالونه حل کړي او خوشحاله څرګندېده (مالوميده، معلومېده).

څنډ وروسته، اداري مدير راو وت.

يوازې د درېيو کسانو نوم يې د کامیابانو په جملې کې ولوست.

په لړليک کې د قاضي نوم، په لمړۍ شمېرې کې و.

بيا، اداري مدير و ويل:

لوستل شوي درې کسه نوماند دې پاتې او نور کولای شئ خپلو موخو پسې لاړ شئ.

قاضي ډېر خوشحاله، شو.

هغه د خدای، شکر و باسه.

اداري مدير و ويل:

تاسو درې کسه، دلته لږ انتظار، وباسئ.

د لابراتوار کس به ستاسو نه خپلې عملي پوښتنې او آزموېنې واخلي.

زه خپلې خونې ته ځم، څنډ وروسته بېرته راګرځم او د کس کوم چې ډېرې شمېرې (نمرې) يې ګټلي، هغه سره د کار پيل په هکله خبرې کوم.

کسانو و ويل :

سمه ده.

اداري مدير، خپلې کوټې (خونې) ته لاړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د لابراتوار مشر هم د عملي آزموېنې کار پیل کړ.

هغه به یوه، یوه کس لابراتوار ته راباله او له هغه به یې پوښتنې کوې.

ټول خلاص او د پایلې په تمه (انتظار) وو.

په دې ترڅ کې، اداري مدیر بېرته، راورسېد.

الکان، ټول خوشحاله شوو.

هر چا به په خپل اند سوچ کوه چې زما، نوم به واخلي.

اداري مدیر د لابراتوار مشر کوټې (خونې) ته ننوت او څنډ وروسته راو وت.

هغه، الکانو ته و ویل:

د اعلان سره سم، زمونږ یوه کس، په کار و.

مونږ آزموېنې، بشپړې، کړې.

په پایله کې، قاضي وتوانید، تر ټولو ښې شمېرې (نمرې) په تحریري او تقریري آزموېنو کې تر لاسه کړي.

مونږ دواړه هغه ته، د بریا او نوې دندې مبارکي، وایو.

نور کسان کولای شي، زمونږ او یا د نورو روغتونونو اعلانونه وګوري (تعقیب) کړي.

مونږ هغوی ته، د دندې موندنې دوعاوې کو.

بیا اداري مدیر، قاضي ته و ویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



ته زما سره، دفتر ته راشه.

هغوی دواړه، د اداري مدیر کوټې (خونې، دفتر) ته، ننوتل.

بیا، مدیر و ویل:

څه وخت کولای شې، پر دندې پیل کړې؟

قاضي و ویل:

ستاسو خوښه صیب.

مدیر و ویل:

زما په خوښه همدا اوس کولای شئ، پر کار پیل کړې.

قاضي و ویل:

اوس خو نه کیږي.

زه بل چیرې دنده لرم.

اوس غواړم خپلې دندې ته لاړ، استعفا وکړم او سر له سبا نه، خپلې نوې دندې ته راشم.

اداري مدیر و ویل:

سمه ده!

ستا، خوښه!

قاضي و ویل:

کولای شم، ستاسو شمېره ولرم؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



اداري مدير خپل کارت ورته ورکړ او ويې ويل:

څومره چې ژر کېدای شئ، له ما سره اړيکه و نيسه.

قاضي و ويل :

سمه ده صيب!

ماښام ته!

انشا الله!

اداري مدير و ويل:

سمه ده!

بيا قاضي د اداري مدير سره خدای پاماني وکړه او د روغتون نه، و وت.

هغه لمړی پراپرتۍ دفتر ته لاړ او الته يې د هغه د خاوند نه و غوښتل، تر څو د خپلې دندې نه استعفا وکړي.

هغه و نه منه.

بيا قاضي و ويل:

زه به د روغتون اداري مدير سره خبرې وکړم او الته به د درېيو بجو نه وروسته د شپې تر ناوخته کار وکړم.

د پراپرتۍ خاوند و ويل:

سمه ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ما یواځې پرې نه ږدې.

ته اخلاص منده سړی او ما ته دې، ډېره ګټه رسولې ده.

همدا راز، یواځې، پر تا اعتماد کوم.

بیا قاضي و ویل:

مننه کوم.

زه به د روغتون اداري مدیر ته زنګ و وهم، وګورم چې هغه څه وایي.

قاضي له جبه غوږکي (ګرځنده تېلفون، موبایل) و باسه او اداری مدیر ته یې زنګ و واه.

اداري مدېر، غوږکی پورته او و ویې ویل:

څوک او د کوم ځای نه، خبرې کوې.

قاضي سلام ورکړ.

اداري مدیر د هغه سلام ته، ځواب ورکړ.

بیا یې ځان ور وپېژاند.

هغه و ویل:

زه ستا په انتظار یم.

څه وخت پر دندې پیل کوې؟

هغه و ویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



لږ ستونزه رامنځ ته شوې ده.

اداري مدیر و پوښتل:

څه ستونزه ده؟

په ګډه (شریکه) به یې حل کړو.

قاضي و ویل:

ما د خپلې پخوانۍ دندې په هکله د ستاسو سره خبره ګډه (شریکه) کړې وه.

اوس هغه، زما استعفا نه مني.

بیا اداري مدیر و ویل:

البته ستا دنده د څو بجو نه تر څوو، پورې ده؟

قاضي و ویل:

د سهار اتو نه تر مازیګر څلورو بجو پورې ده.

بیا اداري مدیر و ویل:

ته کولای شئ دلته درې بجې ځان ورسوې او تر دولس بجو پورې زمونږ سره کار وکړې؟

هغه و ویل:

دپراپرټۍ خاوند هم، دلته ناست دی.

زه د ده سره خبرې او ژر به تاسو ته بیا، زنګ و وهم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



اداري مدير و ويل:

که چېرې نه کېږي، مونږ اړين يو چې دوېيم کس ته زنګ و وهو.

هغه و ويل:

يوه دکيکه (دقيقه، مېنټ)

بيا يې غوږکی (ګرځنده تيلفون، موبايل) بند او د پراپرټۍ خاوند سره يې خبرې پيل کړې.

هغه، ومنه.

بيا قاضي د روغتون اداري مدير ته زنګ و واه.

هغه و ويل:

څنګه شو؟

قاضي و ويل:

زه کولای شم روغتون ته، ماسپښين درې بجې ځان ورسوم او تر يولسو پورې کار، وکړم.

بيا اداري مدير و ويل:

درې بجې سمې، مګر تر يوولس نيمو پورې بايد کار وکړې، بيا د کور ته تګ له پاره، ستا د موټر کرايه په پام کې نيسو.

قاضي و منه او ويې ويل:

سمه ده!

(c) ketabton.com: The Digital Library



سر له ننه پر خپلې دندې پیل کوم.

اداري مدير د هغه نه، مننه وکړه او ويې ويل:

د تا راتګ پورې، ستا نوم په حاضرۍ کې ګډوم.

هرو، مرو راشه.

قاضي و ويل:

سمه ده صيب!

قاضي د وعدې سره سم، پر کار پيل کړ.

سها وختي به پراپرتۍ ته، ته او بيا به يې د درېيو نه تر يوولس نيمو بجو پورې په روغتون کې دنده تر سره کوه.

البته يې تر دوو کلنو ډېر، دنده تر سره کړه.

په پاکستان هېواد کې وروسته د سياسي کړکېچ، بدلونونه تر سره شو.

حکومت پرېکړه وکړه، تر ټوټول مهاجرين د خپلې خاورې نه و باسي.

په لمړي پړاو کې، خلکو دا خبره، هسې سياسي ګڼه.

پر پرېکړې يې باور، نه درلود.

افغانانو به سوچ کوه، چې د پاکستان حکومت به يې عملي نه کړي.

مګر د پاکستان حکومت د افغانانو ستونزو، سرې اوا (هوا) ژمی، افغاني کړکيچو، ځای نه درلودل مهاجرينو ته، خوراکي توکي، موټر

(c) ketabton.com: The Digital Library

خواریکښ قاضي

..........................................................

د لیږد د پاره او داسې نور....... سره، سره یې د ورځې په سلګونه مهاجر، نیول او د بورډر(لیکې، خط) نه به یې افغانستان ته، اړول (شړل).

په زرهاو، مهاجر هېواد ته ستانه شو.

قاضي هم د نورو مهاجرو په شان، بېرته، هېواد ته، ستون شو.

هغه لمړی خپلې پلارنۍ مېنې ته لاړه.

کورکې، ټول د هغه په راتګ، خوشحاله او د بلې خوا د دندې د لاسه ورکولو په هکله، خواشینې شوو.

قاضي ډېر خواریکښ ځوان و.

هغه چېرته بند، نه پاتې کېده.

څو موده وروسته، کابل ښار ته راغی.

او ښار کې، د دندې موندنې په سوچ شو.

هرې خوا به، په دندې پسې ګرځېد.

همدا راز به د د ندو اعلانونه، کتل.

څه موده تېره شوه.

هغه په حکومت کې کوچنۍ دنده تر لاسه کړه.

بیا په رخصتیو کې، کورته لاړ.

الته، مور او پلار یې هغه ته، و ویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



.........................................................

مونږ او تا څه پیسې، ټولې کړي دي.

ته زمونږ مشر زوی یې.

زمونږ عمر په تېرېدو دی.

بیا پلار یې و ویل:

زه سپین ږیری او مور دې هم سپین سرې، شوې ده.

ښه به وي چې د ستا پېښې بندې کړو(وتړو).

قاضي و ویل:

زما پېښې چې بندې کړئ، خرنګه به کار، وکړم.

پلار یې وخندل.

بیا یې ویل:

زما په مطلب پوې نه شوې.

مونږ غواړو تا ته، کوژده بیا ستا کور، ودان کړو.

په ژوند هسې اعتبار نه شته.

مونږ غواړو ستا واده د خپل په ژوندانه کې، تر سره کړو.

قاضي و ویل:

نه!

زه غواړم لوړې زده کړې، و کړم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



مور یې و ویل:

ته هر کله کوی شې، خپل سبک (سبق) و وایې.

ښه به دا وي چې زمونږ خبره ومنې.

بیا قاضي و ویل:

د ستاسو په خبرو کې څه و وایم؟

تا سو چې څه پرېکړه کوئ، زه یې منم.

بیا د هغه پلار او مور لاس پر لټنې پیل کړ.

د هر چا نه به یې، د یوې ښې کورنۍ پوښتنې کوې.

تر څو چې د قاضي بخت خلاص او د یوې ښې کورنۍ سره مخ شو.

بیا مور او پلار یې د رایبارۍ (غوښتونکی) په توګه د جلۍ کورنۍ سره خبرې وکړې.

دا کار یوه میاشت، وخت و نیو.

بیا د جلۍ کورنۍ راضي (موافقه) وکړه.

بله ورځ، د قاضي مور، پلار، اکا ګان او څه نور نږدې دوستان نارینه او ښځینه د جلي کور ته، لاړل.

هغوی هم د افغاني دود سره سم هغوی ته دسمال (لوز، لفظ) ورکړ.

بیا د قاضی پلار هم د دسمال په مجمې (مجمعې، پطنوس) کې پیسې کېښودې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

خواريکښ قاضي

.....................................................

دواړو کورنیو غړو، پر خوشحالۍ او چای څښلو پیل کړ.

ګړې تېره او خوږې خبرې کېدې.

بیا د قاضي مور، و ویل:

خبرې خو خوږې، لکه شکرې دي.

ښه به وي چې اوس لاړ او بیا د کوژدې ترتیبات، و نیسو.

دجلۍ کورنۍ و منه.

بیا د قاضي کورنۍ، له ځایه پاڅېدل.

د جلۍ کورنې هغوی ته د وچو ګلانو ګېډي، چاکلېټ، په پطنوس کې د پخوا نه جوړ شوی او پرې زرغونه (شنه) جالۍ اواره شوې وه، د هغوی په مخ کې یې کېښوده.

بیا یې هغوی ته، و ویل:

اوس تاسو کولای شئ دا له ځانه سره یوسئ.

خلک به، مبارکي د پاره راشي.

تاسو کولای شئ دا به هغوی ته و ښیئ.

د قاضي کورنۍ ومنه.

پطنوس یې له ځای نه او چت او د قاضي مور هغه په لاسونو کې ونیو.

بیا یې خدای پاماني وکړه او جلۍ د کور نه و وتل.

(c) ketabton.com: The Digital Library

خواریکښ قاضي

.....................................................

لمړی سړک ته لاړل.

بیا یې دربست موټر تر کوره ونیو.

ځنډ وروسته خپل کور ته ورسېدل.

د موټر د ښکته کېدو سره سم، د کلي ماشومان، راورسېدل.

هر چا به مبارکۍ ویل.

هغوی ټول د قاضي د پلار کور ته، د ننه شو.

نږدې خپل او خپلوان د هغوي کور ته، مخه وکړه.

په دې وخت کې، قاضي هم په کور کې و.

هر چا به هغه او دهغه کورنۍ ته، مبارکۍ ویلې.

د قاضي مور او پلار هم ډېر خوشحاله شو.

د شپې میلمنو د پاره، چرګان حلال او وریجې پخې کړې.

شپه، په خوشحالۍ سره، تېره شو.

څو ورځې تېرې شوې.

قاضي، بېرته، خپلې نوې دندې ته، ستون شو.

د قاضي پلار، خپلې ښځې ته و ویل:

د کوژدې (کوزدي) بندو بست به، څه و خت وکړو.

هغې و ویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

خواریکښ قاضي

...............................................................

ښه به وې چې دا خبره لمړی د جلۍ کورنۍ او بیا د قاضي سره هم ګډه (شریکه) کړو.

څو ورځې، تېرې شوې.

د قاضي کورنۍ، د جلۍ کورته، لاړل.

الته یې، کوژدې د مراسمو او ولور، سره زر، ځای، دکسانو د ګډون شمیر، نکاح او نور اړوندو مسایلو په هکله، وغږېدل.

بیا یې د شریعت سره سم، فیصلې وکړې.

د کوژدې ورځ یې راتلونکې جمعې ورځ وټاکه ( وټاکله).

د قاضي کورنې، هم ټولې خبرې او پرېکړې د قاضي سره شریکه او د هغه یې و غوښتل چې د کوژدې نه، یوه ورځ دمخه، خپلې سیمې ته راشي.

قاضي هم د وعدې سره سم، یوه ورځ د کوژدې نه مخکې خپلې سیمې ته لاړ.

ورځ تېره او شپه شوه.

د لریو ځایونو خپلوانو د قاضي په کور کې شپه وکړه.

بیا سهار وختي د لمانځه د ادا کولو نه وروسته پر کارنو پیل کړ.

غرمه او ډوډۍ تیاره شوه.

د قاضي پلار پر سپین ږیرو غږکړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

خواريکښ قاضي

.................................................................

د ډوډۍ ويش له پاره څه وخت شته، ښه به دا وي چي ملا صيب د قاضي نکاح و تړي.

د کلي ملا راغی او د قاضي پلار تر څنګ، کښېناست.

بيا يې د جلۍ پلار ته غږ کړ او هغه هم د ملا صيب تر خوا کښيناست.

ملا هم د نکاح په هکله لنډ معلومات او ګټې د نورو سره ګډې (شريکې) کړې.

بيا يې شاهدان و ګمارل.

شاهدانو خپله شاهدي د ټولو خلکو په مخ کې ورکړه.

بيا ملا صيب، د دواړو نکاح وتړه.

ملا صيب د نکاح وروستۍ دوعا ولوسته.

د نکاح پاڼه يې ډکه کړه او قاضي ته يې په لاس ورکړه تر څو خپل خوسر(خسر) ته يې، ورکړی.

هغه هم، د نکاح پاڼه واخيسته او خپل خوسر(خسر) ته يې په دواړو لاسونو ورکړه.

خوسر(خسر) يې پاڼه، واخيسته.

قاضي د هغه لاسونه، ښکل کړل؛

خوسر(خسر) يې هم د قاضي سر، ښکل کړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

خواریکښ قاضي

..........................................................

بیا د قاضي کشر ورو، د شېرينۍ (چاکلېټو) پطنوس راوړ او د نکاح ګډونوالو باندې يې و ګرځاوه.

کسانو به چاکلېټ اخيست او قاضی ته به يې، مبارکي ويلې.

بيا پلار يې څه شېريني واخيسته او د قاضي پر سر يې واچوه.

د نکاح دود تر سره شو.

بيا ډم (آشپز) راغی او د قاضي پلار ته يې، و ويل:

ډوډۍ، تياره ده.

څه وکړو؟

په دې وخت کې د کلي ملا صيب و ويل:

نن د جمعې مبارکه ورځ، ده.

ښه به وې چې ډوډۍ وباسو او د جمعې لمونځ ته تياری و نيسو.

د قاضي پلار و ويل:

سمه ده!

ملا صيب!

خير!

دواړه به د دېګي سر ته لاړ او ته به دوعا وکړې.

بيا به، د دېګيو سرونه، خلاص کړو.

لمړی به نارينوو ته، ډوډۍ ورکړو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

خواریکښ قاضي

.......................................................

**ځکه!**

هغوی د جمعې لمانځه ته، لوی جومات ته ځي.

بیا به، ښځو ته ډو ډۍ و وېشو.

د کلي ملا صیب، دوعا وکړه.

بیا، آشپز د دېګیو سرونه خلاص او وېش یې، پیل کړ.

د کلي ځوانانو په منډو سره ډوډۍ مجمې (مجمعي) چلوې.

په لږ وخت کې یې ټولو راغلو میلمنو ته، ډوډۍ، ورکړه.

نارینوو د ډوډۍ خوړو نه ورسته په وتلو پیل کړ.

بیا آشپز هم د ښځو ډوډۍ وېش پیل کړ.

ډوډۍ وېش خلاص او په پای کې، پاتې کسانو د آشپز سره ډوډۍ وخوړه.

څنډ وروسته، نارینه هم د لمانځه ادا کولو نه وروسته ورسېدل.

بیا د چای امر وشو.

ځینې پاڅېدل او خپلو ښځو او کوچنیانو سره، خپلو کورونو ته روان شوو.

څه نورو کسانو، چایونه و څښل، بیا د مبارکۍ ویلو سره خپلو موخو پسې لاړل.

ډېر لږو کسانو، کوم چې کورونه یې لرې ول، التـه د قاضي د پلار په کور کې شپه وکړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



........................................................

سهار شو.

قاضي د سهار د لمونځ ادا کولو نه وروسته، د خپل پلار او مور نه د مراسمو په سر ته رسولو کې، مننه وکړه.

بيا يې د سهار چاى د ميلمنو سره و څښل.

د شپې ميلمانه هم له ځايه پاڅېدل.

لمړى يې قاضي او د هغه کورنۍ ته مبارکې و ويله او بيا خپلو کورونو خوا، روان شو.

څند وروسته، قاضي هم د خپل پلار او مور لاسونه ښکل او د هغوى او د کورنۍ نورو غړو نه يې مننه او بيا يې خداى پاماني واخيسته.

لمړى يې ځان پوخ سړک ته ورساو.

په لاره کې به هم خلکو، هغه ته مبارکي ويله.

څنډ وروسته هغه پوخ سړک ته ورسېد، بيا په موټر کې ترجلال آباد ښار پورې، لاړ.

لمړى د وچ حوض (حوض خشک) ته لاړ او الته يې نيم من ښه ګوړه (ګړه) واخيسته او له ځانه سره يې کابل ته راوړه.

بيا وختي دندې ته راون شو.

هغه، راوړلې ګوړه (ګړه) له ځانه سره يوړه.

بيا ملګرو يې د مبارکۍ له پاره، هغه ته راغلل.

هغه هم ملګرو باندې خوږه، ګوړه (ګړه) و وېشه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

خواریکښ قاضي

.....................................................

قاضي ډیر کوښښ وکړ تر څو تګړه قاضي شي.

او د ورکړ شوی لقب (دوېیم نوم) تازه کړي.

مګر بخت ور سره یاری ونکړه او هغه د لابراتوار پوي او تکړه، داکټر شو.

د قاضي کورني اوس هغه ته د واده دود د تر سره کولو هوډ (پلان) لري.

قاضي هم په بریالیتوب سره خپله نوې دنده تر سره کوي او خپلې تنخواوې ټولوي.

هغه په قاضي مشهور دی.

خلک اوس هم هغه ته قاضي وایي.

**پای**

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د چاپ شويو کتابونو لېست

۱. معماری افغانستان
۲. اطلاعات، اصول و قواعد طراحی در معماری (بخش شفاخانه ها)
۳. راهنمود طلايي (برای اساتيد انستيتوت های تخنيکي و ساختمانی افغانستان)
٤. رسم تخنیک (گامی به سوی دنیای انجینری) جلد اول
٥. رسم تخنیک (گامی به سوی دنیای انجینری) جلد دوم
٦. اطلاعات، اصول و قواعد طراحی در معماری (بخش اداری)
۷. معماری اصیل شهر کابل (مرادخانی)
۸. معماری شهر کابل (بی بی مهرو)
۹. افغانستان در قرن تکنالوژی
۱۰. زونبندی اقلیم و زلزله افغانستان
۱۱. صدقه جاریه / دنیای انجینری
۱۲. آموخته های ناب از طراحی تا نظارت جلد اول (۱۹۹۰ الی ۲۰۲۱)
۱۳. داستان حقیقی با مقیاس معماری
۱٤. فرار از کشور- با تصاویر مستند
۱٥. نقش دانشمندان مسلمان در فن معماری و مهندسی
۱٦. پخسه در افغانستان
۱۷. بنیا نگذاری اولین مساجد توسط افغانها در آسترلیا
۱۸. آموخته های ناب از طراحی تا نظارت جلد دوم (۱۹۹۰ الی ۲۰۲۱)

(c) ketabton.com: The Digital Library



١٩. منار جام – الهامی برای قطب منار
٢٠. آموخته های ناب از طراحی تا نظارت
جلد سوم (١٩٩٠ الی ٢٠٢١)
٢١. جام یا کلیان ( کلان)
٢٢. معماری گل و چوب (معماری شهر کهنه کابل) جلد اول
٢٣. معماری گل و چوب (معماری شهر کهنه کابل) جلد دوم
٢٤. معماری گل و چوب (معماری شهر کهنه کابل) جلد سوم
٢٥. چېر ته چې قانون نه شته (ګډوډي د افغانستان په معمارۍ کې)
٢٦. مډرنه جوما تونه ,, پخوا او نن ،،
٢٧. هله جور کو (نی پخسه – مقاوم زلزله)
٢٨. اطلاعات، اصول و قواعد طراحی در معماری (بخش مساجد)
٢٩. اطلاعات، اصول و قواعد طراحی در معماری (بخش مکاتب)
٣٠. هنر و صنعت چوب در مرادخانی
٣١. هنر و پیشه حکاکي - زرگری در مرادخانی
٣٢. هیچ (چهل داستان واقعی)
٣٣. معماری اصیل شهر کابل
(تشریح مورخ ١٧ ماه میزان سال ١۴٠١ پوهنتون پولی تخنیک کابل)
٣٤. ۴٠- چهل
٣٥. مجنون او ګلچین (پښتو ناول)
٣٦. در جستجو (ناول به زبان دری)
٣٧. تفاوت ها تفاوت می آورد (کتاب تصویری)
٣٨. مجموعه از دروس دینی مولوی صاحب خیرالله مخدوم
(جلد اول)

(c) ketabton.com: The Digital Library



٣٩. برف ها آب میشود
٤٠. رسم و تخنیک (گامی به سوی دنیای انجینری) جلد سوم
٤١. آرزو و امید (ناول به زبان دری)
٤٢. بوډا ښکاري (پښتو ناول)
٤٣. نامنوني ژوي (پښتو ناول)
٤٤. د اسلامي معمارۍ پیل
٤٥. حیوانات شوخ ( ناول به زبان دری)
٤٦. مجموعه از دروس دینی مولوی صاحب خیرالله مخدوم (جلد دوم)
٤٧. د شپیلۍ مینه (مه ینه) په کچه ګړۍ کې (پښتو ناول)
٤٨. حشمت خان د کلا معماري
٤٩. د افغان الک او آذري جلۍ مینه (پښتو ناول)
٥٠. د وچو بڼونه او پارکونو معماري
٥١. د یوې ښونکې مینان په یوه ټولګي کې (پښتو ناول)
٥٢. د ژرنده ګرې ماما مینه (پښتو ناول)
٥٣. په اسلامي نظام کې ودانیز پرمختګ
٥٤. شپنه ادي (پښتو ناول)
٥٥. بې زده کړې پوی (پښتو ناول)
٥٦. د مینې تاو (پښتو ناول)
٥٧. (BIM) په خپله ژبه - په نړۍ کې تر ټولو نوې او ګړندۍ کړنلاره د معمارانو او انجینیرانو(انجینرانو) له پاره
٥٨. مجموعه از دروس دینی مولوی صاحب خیرالله مخدوم (جلد سوم)
٥٩. سیدو او عیدو - د کوشنیوالي خواږه ملګري (پښتو ناول)
٦٠. د یوې میاشتې **ناوي** (پښتو ناول)
٦١. دخاځکو هار (د یوه سړی لنډې کیسې)

(c) ketabton.com: The Digital Library



٦٢. د کابل ښار اصلي معماري (مراد خانۍ)
٦٣. کوشنۍ سوداګره (پښتو ناول)
٦٤. د کابل ښار معماري - بي بي مهرو
٦٥. سرغندوی (ناب، مشهور) پوډري
٦٦. ډارونکی سېلاب ( پښتو ناول)
٦٧. خواریکښ قاضي (پښتو ناول)

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د کار لاندې کتابونو لېست

۱. مجموعه از دروس دینی مولوی صاحب خیرالله مخدوم (جلد چهارم)
۲. لیونی لېوه
۳. د خاورو لاندې ښار
۴. د پخوانیو جوماتونو توپیر د نن سره
۵. سپین کارغه
۶. سور تنور
۷. خړه بیزو
۸. بندي مرغه
۹. توده برستن
۱۰. بې وخته باران
۱۱. د ژوند پای

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د امکان او وخت په صورت کې

١. پخسه در افغانستان (به زبان انگلیسی)
٢. تاریخ معماری افغانستان
٣. حویلی های آسمان خراش
٤. ارتباط گذ شته، حال و آینده در معماری
٥. استعداد، سرعت و اقتصاد در معماری افغانستان
٦. شیطان چراغ
٧. خاطره ها

(c) ketabton.com: The Digital Library

# Hard working judge

**Written by:** Architect PHD Hashmatullah Atmar

**Date:** October - November /2025

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**